محمد هارون خپل شعشعی


۲۴ اکتوبر ۲۰۱۱

# د یرغلګرو پوځو او مزدورو زورواکو سیستماتیکي ځورَوني

**لومړۍ برخه**

تېره اوونۍ په افغانستان کي د ملګرو ملتو د مرستو اداري ( یوناما) د افغانستان د استخباراتي او امنیتي ادارو په توقیف خانوکي د ځورَوني یا شکنجي په اړه څلور اویا مخیز رپوټ خپور کړ، چي لوستل یې نه یوازي د بشري حقوقو فعالانو، بلکي ټولو ویښو، منورو او هیوادپالو افغانانو ته هم د پام وړ دي . د رپوټ د بېلابېلو جزییاتو په اړه تر ځینو مالوماتو او تبصرو مخکي بده نده، چي د ځورَوني یا شکنجي حقوقي تعریف او راز راز شکلونه، په لنډ ډول وپېژنو.

د انسانانو ځورَونه یا تعذیب خورا اوږد  تاریخ لري . له هغو زمانو څخه چي په بشري ټولنو کي د حاکم او محکوم یا زورواکي او بېوزلي خبري را پیدا سوي دي، ځورَونو هم سَوْکَه سَوْکَه شکل وموند.  تاریخي شواهد ښیي، چي په بشري ټولنو کي د انسانانو د مغز پرېوللو، استنطاق، جزا او اجبار یا اړ ایستلو دپاره زیاتره د ځورونو یا شکنجو له بېلابېلو ښو څخه کار  اخیستل سوئ دئ . پر دولتو سربېره، ځینو زورواکو کسانو او ډلو ټپلو هم د مختلفو هدفو په خاطر نورو ته ډول ډول تعذیبونه او شکنجي ورکړي دي . تر دې دوو ډولو چي تېر سو، په ځورونه یا شکنجه کي کله کله سادیستي دلایل او عوامل هم نغښتي یې (وي).  دا هغه حالت دئ، چي ځورونکی یا شکنجه ورکوونکی د نورو له درد، رنځ او سپکاوي څخه خوند( په تېره بیا جنسي خوند) اخلي .

غیر انساني جزاوي او تعذیبونه د بشري تمدن پر تندي تور داغ دئ. کله چي بشر د پرمختګ او ترقی لوړو پړاوو ته ورسېدئ، نو یې د ځورونو او شکنجو استعمال هم بند کړ. له همدې امله نه یوازي په اوسنیو بین المللي حقوقو، بلکي د ځینو پرمختللو هیوادو په ملي قوانینو کي هم د انساني ځورونو په کلکه مخنیوی سوئ دئ . په معاصرو بین المللي حقوقوکي له اوږدو کلو راهیسي د انسان ځورول یا شکنجه کول له بشري حقوقو څخه څرګنده سرغړونه ګڼل سوې ده . د ملګرو ملتو د سازمان د نړۍ والي اعلامیې په پینځمه ( ۵) ماده کي په دې اړه داسي راغلي دي : « هیڅوک باید له ځورَوني، بې رحمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک چلند یا جزا سره مخامخ نسي . » د همدې نړۍ والي اعلامیې په نمه ( ۹) ماده کي د خپلسر نیولو، توقیفولو یا شړلو د مخنیوي

په باب حُکم تسجيل سوئ دئ [1] . **د ژنيو يا جنيوا دريم (۱۹۴۹ع) او څلرم (۱۹۴۹ع) کنوانسيون هم په روښانه ټکود جګړو او نښتو پر مهال د بنديانو د نه ځورولو لارښوونه کړې ده[2]. د مدني او سياسي حقوقو په اړه د ملګرو ملتو د بين المللي کنوانسيون ( د ۱۹۶۶ع کال د ډيسمبر پر شپاړسمه تصويب سوئ؛ او د ۱۹۷۶ع کال د مارچ پر درويشتمه نافذ سوئ) هم دخپلي لسمي مادې په لومړۍ فقره کي په پوره صراحت له توقيف سوو/ بندي سوو کسانو سره د انساني چال چلند او درناوي يادونه کيي( کوي)[3].**

**د ځوروَني يا شکنجي د مخينوي په برخه کي د بين المللي حقوقو تر ټولو وروستی، هر اړخيز او پياوړی سند، د ځوروني او هر بل بې رحمانه، انساني ضد يا سپکاوي ډک چلند او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو هغه کنوانسيون دئ، چي د ۱۹۴۸ع کال د ډيسمبر پر لسمه  تصويب سوئ؛ او د ۱۹۸۷ع کال د جون پر شپږويشتمه نافذ سوئ دئ [4]. د همدې نړی وال کنوانسيون د چلند يا انفاذ له کبله اوس د جون د مياشتي شپږويشتمه نېټه د ځوروَني له قربانيانو سره د خواخوږۍ او ملاتړ په نامه پېژندل سوې ده .**

د افغانستان په اساسي قوانينو، له هغي ډلي څخه د کرزي د ټپل سوي حکومت د تش په نامه اساسي قانون په مندرجاتو کي هم د ځوروني يا تعذيب د ممانعت په باره کي ارزښتناک احکام تسجيل سوي دي، چي لنډه يادونه يې دلته بې ګټي نه ده . د دې اساسي قانون په نه ويشتمه (۲۹) ماده کي په دې باب داسي راغلي دي :

« د انسان تعذيب منع دئ .

هيڅوک نسي کولای، چي له بل شخص څخه حتی د حقايقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقيب، نيوني يا توقيف لاندي وي اويا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذيب لپاره اقدام وکړي يا يې د تعذيب امر ورکړي .

د داسي جزا ټاکل چي د انساني کرامت مخالفه وي، منع دي . »

دېرشمه (۳۰) ماده هغه څرګندوني، اقرار يا شهادت بې اعتباره ګڼي، چي له متهم يا بل شخص څخه په زور ترلاسه کيږي . د دې مادې  د دوهمي فقرې له حُکم سره سم پر جرم اقرار  يا اعتراف د تورن هغه بيان ته ويل کيږي، چي  په خپله خوښه او د عقلي روغتيا په لرلو سره يې د واکمني محکمي په وړاندې وکړي .

د همدې ناچله او مسخره اساسي قانون اوومه ماده د ملګرو ملتو د نړۍ والي اعلاميي او د افغانستان له خوا د لاسليک سوو کنوانسيونو د رعايت حکم کيي، چي په دې ډله کي د ملګرو ملتو د مدني او سياسي حقوقو کنوانسيون او د ځوروَني يا تعذيب پر خلاف نړۍ وال کنوانسيون هم شامل دي [5]. ځکه افغانستان دا دواړه کنوانسيونه ډېره کلونه پخوا لاسليک کړي دي .

په  دې توګه ګورو، چي تعذيب يا شکنجه هم د بين المللي حقوقو په ډېرو معتبرو  اسنادو او هم د کرزي د مزدور دولت په نافذ اساسي قانون کي په روښانو ټکو منعه سوې ده؛ خو سره له هغه هم د يوناما د رپوټ له مخي د افغانستان د حکومت په توقيفخانو او محبسو کي عامه او سيستماتيکه بڼه لري . د سيستميک يا سيستماتيک[6] مفهوم دا دئ، چي ځوروَنه يا شکنجه د يوه يا دوو مأمورينو يا دې يا هغه اداري کار نه، بلکي د حکومت په ټول امنيتي او استخباراتي سيستم کي په پراخ او منظم شکل روانه ده .  لکه څنګه، چي د بيت المال د مځکو غصب، د مخدره موادو ګرمه سوداګري، غلا، چور، موک اخيستنه او داسي نور جنايتونه او خيانتونه په درسته دولتي دستګاه کي د طاعون په څېر خپاره دي، ځورونه يا تعذيب هم د کابل د مزدورو ډلو ټپلو په امنيتي او استخباراتي دستګاه کي د چاکليتو يا سګريټو په شان هر چيري او هر وخت استعماليږي .

## د ځورونو يا شكنجو ډولونه

ځورونه خورا ډېر ډولونه او شکلونه لري، چي ځيني يې جسمي او ځيني يې روحي يا رواني بڼې لري . وهل، ټرل (په ځنځير يا نورو وسايلو د وجود د غړو ټرل)، سترګي پټول، داغل يا نخښه کول، سوځل، د خوړو او اوبو نه ورکول، اجباري خوراک، په سپو داړل، ډېر وخت پر سر اوبه څڅول، برقي جټکي يا شاکونه، له ډېري تودوخي يا سړو سره مخامخ کول، په دردناکو حالاتو کي درولو يا کښېنستلو ته اړ ايستل، سپکاوی، د ټوکو او ملنډو اعدامونه (په ټوکو او درواغو سره ځوک په اعدامولو بېرول او ګواښل) ، جنسي تېری، په چپلاخو يا څپېړو وهل، بې خوبه کول، کوټه کولپې( قفلي)، لځول، واټر بورډينګ[۷](د چا پر سر په پرله پسې توګه دونه اوبه اچول، چي تنفسي لاري يې موقتاً بندي سي؛ او په دې توګه د ډوبېدو احساس وکي)، واټر کيور[۸] (چا ته په زور او اجبار د ډېرو اوبو ورکول)، خفه کول يا سا بندول، د وجود په غړو( لاسو، پښو، تناسلي آلي او نورو) ځړول، د جنسي تېري ګواښ، حق السکوت غوښتنه، بوازي کول او شړل، ډېري اوږدې پوښتني اوپلټني، د ناوړه او زړه زهيرونکو ړغو اورېدو ته اړ ايستل، بد شکله کول يا د همېشني بد شکله کولو ګواښ، د دارو درملو ځوروَنه ( د داسي درملو ورکول يا د داسي پېچکاريو لګول، چي د هغو له امله ځورېدونکی کس خپل اختيار او اراده له لاسه ورکړي)، د متضرر يا مجنی عليه د عزيزانو د وژني،کړولو يا وژلو ګواښ، ابسينېشن[۹]( سترګو ته ډېر نېژدې د سره يا تاوده فلز په نيولو سره د چا ړندول)، خصي کول يا خنثی کول، په ډېري سختی سره  د وجود د غړو کښېکښل، د وجود د غړو پرې کول، د پښو او لاسو د ګوتو د نوکانو ايستل، په چلاخه يا غمچينه/قمچينه وهل، د پوست جلا کول، په سرو سوو تېرو فلزاتو د پښو سوځل، پښې په چلاخه وهل ؛ په پرې، دوسمال، واير يا داسي نورو شيانو سا بندول، د تناسلي آلي اجباري پرېکول يا په سختی سره پېچل يا اړول را اړول، اجباري سُنتول، ګلاسګو سمايل[۱۰]( تر غوږ  پوري د خولي څېرل)، همسترينګينګ[۱۱] ( د چا داسي ګوډول، چي د سم تګ کولو توان ونه لري)، نيکپينګ[۱۲]( په ناريه يا جاريحه وسله د زنګانه معيوبول)؛ په کښتی، موټر، ګاډی يا نورو وسايلو پسي د چا کشول، له هوا بې برخي کول، له مړو يا نورو زهر لرونکو او بې زهره حيواناتو سره په يوه ځای کي اچول، غاښ ايستل يا ماتول او داسي نور د روحي يا جسمي ځورونو ځيني ډولونه دي، چي پخوا په بېلابېلو هيوادوکي کار سوي يا تر اوسه هم کارېږي .

د ځوروَني انواع او اشکال که څه هم د دغه راز جرمو په پېژندنه کي لو( لويه) مرسته کيي؛ خو سره له هغه هم داسي تعريف نه وړاندي کيي، چي په روښا کي يې هر راز ځوروَني يا تعذيبونه په اسانی سره وپېژندل سي . د دې مقصد دپاره بايد د **ځوروَني او هر بل بې رحمانه، انساني ضد يا سپکاوي ډک چلند او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو د ۱۹۸۴ع کال د ډيسمبر د لسمي نېټې د تصويب سوي کنوانسيون  اوله ماده تر نظر تېره کو. د دې کنوانسيون په اوله ماده کي داسي راغلي دي :**

« هر هغه عمدي عمل، ځوروَنه يا تعذيب ګڼل کيږي، چي شخص ته سخت جسمي يا روحي درد او عذاب ورکي؛ او له ځورېدونکي شخص يا کوم دريم کس څخه د اطلاعاتو يا اقرار اخيستلو يا د هغه عمل د جزا ورکولو په مقصد ورکول کيږي، چي ده يا کوم دريم کس کړئ يې يا يې په کولو تورن يې يا دی يا  کوم دريم شخص له ګواښ او اکراه سره مخامخ کي يا دغه راز درد او عذاب د هغه ځورونکي دولتي مأمور يا بل دولتي مقام د تبعيضي چلند له مخي ور رسېدلئ يې، چي د ځوروَني عمل يې په لمسون، رضاً او هوکړه اجرا کيږي . هغه درد او کړاو په ځوروَنه يا شکنجه کي نه راځي، چي د اصلي او تبعي جزاوو له امله پر چا تېرېږي . »

راسئ اوس نو د ځوروَني يا تعذيب د دې پراخ حقوقي تعريف پر هره برخه، يو څه روښا واچوو:

- د دې حقوقي تعريف يا پېژندني له مخې ځورونه، شکنجه يا تعذيب يوازې هغه څه نه دي، چې موږ يې مخکې د ځينو بنو او ډولو نومونه ياد کړه؛ ځکه د دې تعريف له مخې هر هغه عمدي عمل ځورونه ګڼله کېږي، چې انسان ته سخت جسمي يا روحي درد او عذاب پيښ کړي . په داسې عمدي اعمالو کې د نړۍ پر مخ هره جسمي يا روحي ځورونه راتلای سي . البته، د انسانو د ځورولو عمل بايدهرومرو عمدي بڼه ولري . که چا ته د امنيتي يا استخباراتي کارکوونکي يا کوم بل چا د خطأ يا تېروتني په وجه سخت جسمي يا روحي عذاب ورسيږي، دې ته نو د وړاندي سوي تعريف په رڼا کې، ځورونه يا تعذيب نه ويل کيږي .

- جسمي يا روحي ځورونه بايد له ځورېدونکي يا شکنجه کېدونکي شخص څخه د مالوماتو ټولولو يا اقرار اخيستلو په مقصد استعمال سوې يې . که د دولت امنيتي، استخباراتي او دفاعي کارکوونکي يا نور دولتي واکمنان بېله مالومات غونډولو يا اقرار اخيستلوچا ته وهل، ډبول ورکيې يا يې په بېلابېلو لارو او ډولو و بې عزتی او سپکاوي لاس ته اچيې، دا نو په حقيقت ځورونه يا شکنجه نه، بلکي داسې جرمونه دي، چې هر يو يې ځانته جلا جرمي وصف، متشکله عناصر او جزاوې لري .

- په ځورونه يا تعذيب کې دا ضروري او حتمي نه ده، چې اطلاعات او اقرار يوازې له هغه چا څخه واخيستل سي، چې له ځورونې يا تعذيب سره مخامخ دئ؛ مثلاً امنيتي، استخباراتي، دفاعي او نور اړوند کارکوونکي د يو چا پلار، مور، اکا، ورور، خور يا نور خپلوان، انډيوالان، همکاران او شناختګان له جسمي يا رواني پلوه ځوريې، چې توقيف سوئ کس ( زوی، لور يا کوم بل خپل او اشنا) لازم مالومات ورکې يا د هغه څه پر کولو يا نه کولو اعتراف وکې، چې دوی يې غوښتنه ځنې کيې . دلته لکه څنګه چې ښکاري، توقيف سوئ کس د خپلوانو، انډيوالانو، همکارانو او نورو نيژدې کسانو تر بېلابېلو جزاوو او فشارو لاندې و ناسمو يا غيرواقعي مالوماتو ورکولو يا اقرار کولو ته اړ کيږي يا بالعکس خپلوان، انډيوالان او همکاران د توقيف سوي شخص د ځورونو په سَوَب همداسې ناسمو مالوماتو ورکولو يا يا اعتراف کولو ته اړوزي .

- کېدای سي چا ته د هغه عمل د جزا ورکولو په خاطر ځورونه يا شکنجه ورکړل سي، چې ځورېدونکي شخص په خپله کړئ يې يا د کوم دريم شخص له خوا سوئ يې يا يې په کولو تورن يې . په دې ډول، په ځورونه يا تعذيب کې د جرم ارتکاب يا په ارتکاب تورنول، ضروري خبره ده . په بله وينا، ځورونه يا تعذيب داسې جرم دئ، چې د يوه بل جرم د اثبات يا نورو کشفي مالوماتو د غونډولو په مقصد کيږي .

- هر هغه عمدي جسمي يا رواني درد او کړاو هم ځورونه ګڼله کيږي، چې تورن يا کوم دريم شخص له ګواښ او اکراه سره مخامخ کړي؛ لکه څنګه چې مخکې يادونه وسوه، شخص ته وويل سي، چې که دې د پلانی پيښې يا پلاني کس په باره کې مالومات را نه کړل يا دې داسې اقرار ونه کئ، نو ستا يا پلاني شخص سره داسې ناوړه چلند کوو يا بالعکس ورته و ويل سي، چې که دې پلانې خپل، دوست يا اشنا داسې مالومات را نه کړل يا يې داسې اقرار ونه کړ، بيا ستا سره پلانی چلند کوو.

- که هر سخت جسمي يا روحي درد د واکمن دولتي/ عامه مأمور يا بل دولتي/ عامه چارواکي د تبعيضي چال چلند پر بنسټ ورکول سوئ يې، بيا هم د ځورونې جرم منځ ته راځي . لکه زموږ په هيواد کې چې د امريکايي يرغل له همغه پيل څخه تر اوسه پوري د امنيتي يا استخباراتي مأمورينو يا نورو دولتي چارواکو د تبعيضي او توپيری چلندپر بنسټ، مظلومو پښتنو ته له القاعدې او افغان وسله مخالفينو سره د تړاو په پلمه، بېلابېلي ځوروني او شکنجي ورکول کيږي . پر هر هغه پښتانه باندې، چې له يرغلګرو پوځو او مزدور دولت سره همکاري نه کيې،

سمدلاسه د القاعدي او وسله والو مخالفينو ټاپه وهل کيږي؛ اود مالوماتو غونډولو، اعتراف کولو، همکارۍ جلبولو يا نورو انساني ضد مقصدو دپاره په رنګارنګ ډولو او بنو ځورول کيږي .

- **د ځورَوَني او هر بل بې رحمانه، انساني ضد يا سپکاوي ډک چلند او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو په کنوانسيون** کي د شکنجي يا تعذيب د تعريف وروستی خبره دا ده، چي د يوه جرم د اصلي يا تبعي جزا له تېرولو څخه را ولاړ سوئ درد او عذاب، که څه هم سخت او کړونکی يي، ځوروَنه يا شکنجه نه ګڼله کيږي؛ د مثال په توګه، هغه څوک چي قتل، غلا، زنا يا داسي نور جرمونه يي کړي يي، د هغو د جزا تېرولو په ترڅ کي رنګارنګ دردونه او عذابونه ګالي . دغه راز دردونه او عذابونه يو هم ځوروَنه يا شکنجه نه بلل کيږي؛ ځکه دا ډول درد او عذاب په واقعيت کي د هغه جرم جزا ده، چي ده په ريښتيا سره کړئ دئ؛ او واکمني محکمې/ محکمو د قانون له حکمو سره سم، پر پېژندلئ دئ .

اوس چي مو د ځوروَني يا شکنجي په حقوقي مفهوم څه نا څه سر خلاص کړ، بې ځايه نه ده، **چي د ځوروني او هر بل بې رحمانه، انساني ضد يا سپکاوي ډک چلند او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو دکنوانسيون د هغو مهمو مادو يادونه هم وکو، چي د افغانستان د مزدور حکومت او اشغالګرو پوځو پر سرغړونو لا نوره روڼا اچيي .**

د دې کنوانسيون په دوهمه ماده کي د ځورونکو يا تعذيبي عملو د مخنيوي او غير تبريه کوونکو حالاتو په باب داسي راغلي دی :

« ۱- هر برخه اخيستونکی دولت بايد داسي تقنيني، اداري او قضايي لاري چاري غوره کړي، چي تر خپل واک لاندي قلمرو کي د ځورونکو عملو مخه ونيسي .

۲- د ځوروني يا تعذيب د توجيه دپاره په هيڅ ډول استثنايي حالاتو لکه د جګړې حالت يا د جګړې ګواښ ، کورنی سياسي بې ثباتي يا کوم بل عامه اضطراري حالت، استناد نسي کېدای .

۳- د ځوروني د توجيه دپاره د لوړ يا مافوق مأمور يا دولتي مقام په امر استناد نسي کېدای . »

لکه څنګه چي ګورو،په اوله فقره کي د کنوانسيون برخه وال دولتونه له لويه سره مؤظف او مکلف دي، چي د تقنيني، اداري او قضايي او لارو چارو په غوره کولو سره، په خپل قملرو( خاوره، اوبو او فضا) کي د داسي عملو د ارتکاب مخه ونيسي، چي په دې يا هغه بڼه شخص ته سخت جسمي يا روحي درد او عذاب پېښيي .

په دوهمه فقره کي په ښکاره او روښانه ټکو بيان سوي دي، چي هيڅ امنيتي، استخباراتي يا بل دولتي مأمور يا مقام په دې دليل ځان له مسووليته نسي ژغورلای، چي استدلال وکي، خلګ يي له دې کبله ځورولي او کړولي دي، چي په هيواد کي د جګړې حالت جاري دئ يا د جګړې د پېښېدو ببره ده يا کورنی ناامني او بې ثباتي روانه ده يا دا دليل و وايي، چي ګوندي ملک د روغتيا، طبيعي ناورينو او داسي نورو اضطراري حالاتو له خطر سره مخامخ ؤ . لنډه دا چي، په جنګ يا سوله، حضر يا سفر، ښه يا بد حال کي هيڅوک د مالوماتو ټولولو، اقرار اخيستلو، همکارۍ جلبولو يا نورو ناروا او غيرقانوني غوښتنو پر بنسټ چا ته تعذيب يا شکنجه نسي ورکولای . د دوهمي فقرې متن په څرګنده د سي . آی . اې . له خوا و تورنو کسانو ته د واټربورډينګ او نورو انساني ضد جزاوو او شکنجو پر ورکولود بطلان کرښه باسي . د دې فقرې صريح نص همدغه راز د کرزي په مزدوره او فاسده اداره کي هم د هغو جنايتکارو عناصرو لاسونه تړي، چي د هيواد د نا ارامو سياسي او امنيتي حالاتو په پلمه، خپلو بېلابېلو مخالفينو، په تېره بيا بې وسه او بې کسه پښتنو ته راز راز شکنجي او تعذيبونه ورکيي .

په دريمه فقره کي په څرګندو ټکو دا عامه حقوقي قاعده تسجيل سوې ده، چي د ځوروَني يا شکنجي مسوول هيڅکله د لوړ يا مافوق آمر د تحريري او شفاهي اوامرو په اِستِناد ځان له مسووليته نسي ژغورلای . په بله ژبه،

د امنيتي، استخباراتي او دفاعي چارو مسوولين دا نسي ويلاى، چي پلاني رييس صاب ( صاحب ) ، بيسمداني معين صاب يا بېمداني وزيرصاب يا پلاني دولتي/ عامه چارواکي په کتبي يا شفاهي بڼه د متضرر يا مجني عليه د جسمي يا رواني عذاب سپارښتنه ورته کړې وه . لکه څنګه چي مخکي يادونه وسوه، د کرزي د ټپل سوي حکومت د اساسي قانون نه ويشتمه ( ۲۹) ماده، د بشر د حقوقو د نړۍ والي اعلاميې پينځمه ( ۵) ماده، د ملګرو ملتو د مدني او سياسي حقوقو د کنوانسيون لسمه ( ۱۰) ماده او د ځورونې پر خلاف د ملګرو ملتو د کنوانسيون د دوهمي( ۲) مادې دريمه ( ۳) فقره په صريح او روښانه ټکو د هر ډول ځورونې ممانعت او مخنيوى کيي . د ځورونې عاملين او مسوولين بايدد خداى او وجدان په ځُکم او د ملي او بين المللي حقوقو د دغو معتبرو اسنادو د صريح ځُکمو په استناد او تمسک د خپلو لوړو چارواکو د ناروا او غيرقانوني غوښتنو په کلکه مخه ونيسي .

د ځورونې پر خلاف د ملګرو ملتو د کنوانسيون څلرمه ( ۴) ماده د دې نړۍ وال سند له هر لاسليکوونکي دولت څخه غواړي، چي د ځورونې ټول عملونه، د ځوروني کوښښ ( تشبث) ، په ځورونه کي مرسته ( معاونت) او برخه اخيستنه ( شراکت) په خپلو جزايي قوانينو کي د بېلابېلو جرمو په توګه تسجيل کړي؛ او د بېلابېلو ځورونو يا شکنجو و ځانګړتياووته په پام سره، هر جرم ته جلا او مشخصي جزاوي وټاکي .

د کنوانسيون په لسمه (۱۰) ماده کي له برخه والو دولتو څخه غوښتنه سوې ده، چي په ملکي او عسکري ډګر کي د قانون نافذونکو ادارو د پرسونل، طبي کارکوونکو، دولتي مأمورينو او هغو کسانو په روزنه کي د ځورونې يا تعذيب د ممانعت په اړه ښوونه او مالومات ورکول هم شامل کړي، چي د نيول کېدو، توقيف کېدو يا بندي کېدو وړ کسانو له حضانت، استنطاق يا معالجي سره سروکار لري . د ځوروني يا شکنجي دغه راز مخنيوى بايد په هغو قواعدو او لارښوونو کي هم شامل سي، چي د يادو سوو کسانو د وظيفو او مکلفيتو په اړه جوړېږي .

د ځورونې يا تعذيب پر خلاف  نړۍ وال کنواسيون په يوولسمه ( ۱۱) ماده کي يوه بله ارزښتناکه مسأله  تسجيل سوې ده، چي د هغې له مخي بايد هر برخه وال دولت د ځورونې د هري ممکني قضيې د مخنيوي په خاطر د استنطاق پر هغو قواعدو، لارښوونو، مېتودو( لارو چارو)، تعاملاتو او ترتيباتو منظم غور وکړي، چي تر خپل واک لاندي قلمرو کي يې د هغو کسانو د حضانت او چال چلند په مقصد عملي کيي، چي د نيول کېدو، توقيف کېدو يا بندي کېدو له بېلابېلو بڼو سره مخامخ دي .

ددې کنوانسيون دولسمه ( ۱۲) ماده د ځورونې په حالاتو کي د سمدستي( عاجلو) او ناپېيلو ( بېطرفانه) پلټنو په اړه د دولتو و مسووليت داسي ګوته نيسي :

« هر غړى دولت بايد ډاډ او تضمين  ورکړي، چي واکمن چارواکي يې په هغو حالاتو کي سملاسي او ناپېيلي پلټني وکي، چي تر واک لاندي قلمرو کي، د معقولو دلايلو پر بنسټ، د ځوروني يا شکنجي عملونه سوي دي . »

د کنوانسيون ديارلسمه ماده ( ۱۳) د ځورونو د قربانيانو د شکايت اروېدو، چټکي او ناپېيلي پلټني او د شکايت کوونکو او شاهدانو د مصونيت پر مسأله بحث کيي :

« هر برخه وال يا غړى دولت بايد ډاډ او تضمين ورکړي،  چي تر واک لاندي قلمرو کي د ځورونې يا شکنجي مدعي د شکايت کولو حق ولري؛ او قضيه يې د واکمنو چارواکو له خوا په چټکی او ناپېيلتوب سره و پلټل سي . بايد داسي ګامونه واخيستل سي، چي د هغو په مرسته شکايت کوونکي او شاهدان د خپل شکايت يا شاهدى پر بنسټ له هر ډول ناوړه چلند او ګواښ څخه خوندي يې . »

لکه څنګه چي د ځورونې پر خلاف د ملګرو ملتو د نړۍ وال کنوانسيون په څلرمه ( ۴) ماده کي يادونه وسوه، د کنوانسيون لاسيلکوونکي دولتونه بايد بشپړه هڅه او کوښښ وکي، چي په قلمرو کي له لويه سره د تعذيب يا

شکنجې د هر ډول عملو مخه ونیول سي .که سره له ټولو هڅو اوکوښښو بیا هم د ځورونو مخه و نه نیول سوه، بیانو هر دولت مکلف او موظف دئ، چي د ځورَوني متضررینو ته د شکایت کولو، د حیثیت د اعادې او منصفانه تاوان حق تضمین کړي . که چیري څوک د ځورونو او تعذیبو په وجه له ژونده بې برخې سوئ یي، ورثې تې ( ته یې) باید د منصفانه تاوان د تر لاسه کولو حق ور کړل سي . دا ټکي د ځورَوني پر خلاف د ملګرو ملتو د نړیَ وال کنوانسیون په څورلسمه ( ۱۴) ماده کې په پوره تفصیل راغلي دي .

د کنوانسیون پینځلسمه ( ۱۵) ماده د هغه اقرار د بطلان په اړه داسي وایي، چي د ځورَوني په زور اخیستل سوئ یي:

« هر غړی دولت باید ډاډ ورکي، له هغه چا پرته چي په ځورولو تورن دئ، تر څو د ځورونې یا شکنجې په زور تر لاسه سوئ بیان، په هیڅ قانوني اقداماتو کې د ثبوت او مدرک په توګه وړاندي نسي . »

**د ځورَوني او هر بل بې رحمانه، انساني ضد یا سپکاوي ډک چلند او جزا پر خلاف د ملګرو ملتو د نړیَ وال کنوانسیون د دې څو مادو له محتویاتوڅخه په ډاګه ښکاري، چي نه د « بشري حقوقو »، « دیموکراسی »، « امنیت »، « قانونیت » او « عدالت » په نامه راغلو لښکرو او نه هم د مزدور دولت په امنیتي، استخباراتي، عدلي او قضایي دستګاه کې واکمنو ډلو ټپلو زموږ مظلومو او خوربدلو هیوادوالو ته د تاوان ورکولو ، حیثیت اعاده کولو ، سملاسي او ناپیلو پلټنو او شکایت کولو حق ورکړئ دئ . فرعوني یرغلګرو او د هغو ناخلفو مزدورانو په زیاترو حالاتو کې حتا له بخښنې او عذر غوښتلو څخه هم ډډه کړې ده .**

**پاته لري**